# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

یونس نگاه
۰۴ اکتوبر ۲۰۲۳



**یونس نگاه**

# د ژبې د غوړېدلو لار

د پښتو ژبې ورځ دې مبارکه وي. په یوه ژبه کې د خلکو د ژوند وضعیت زره زره انعکاس مومي. کوم شو له ژبې یې د رفاه، هوساینې، پوهې او آزادي کچه پیدا کړو. همدا رنګه د لوږې، بې سوادې، بې هنرې او تاوتریخوالي څرک هم په ژبه کې موندل کیږي. ژبه لکه د یوې ونې غوندې د سیاسي او ا قتصادي آب و هوا وضعیت په خپل ځان کې ساتي.

که د سیاست او اقتصاد چاپیریال باراني او برکتي وي هغه کال په ژبه کې هم د آبادي کال په نوم ثبتیږي او که چیرته چاپیریال قحطي وهلی وي د ژبې برخه به هم ډنګره وي.

په حقیقت کې د ژبې وده په بازار پورې تړلې ده او بازار ډیر اړخونه لري، لکه د سیاست اړخ، د کلتور اړخ، د اقتصاد اړخ، د هنر اړخ، د تجارت او نور. که چیرته په دې بازار کې یوه یا څو اړخونه یې خالي وي دا داسې مانا لري لکه په روغه خوله کې چې خراب شوی غاښونه وي.

د پښتو ژبې د ودې لپاره باید د پښتنو ټولنه له اقتصادي اړخه غښتلې شي، د تعلیم او تحصیل له اړخه پراخه شي، د هنر او ادبیاتو له اړخه مولده شي. کله چې له پښتني ټولنې د اختراع او نوښت پیغام نورې نړۍ ته مخابره شي هغه وخت به د پښتو ژبې عطر هم د نړۍ کونجونو ته ورسیږي. که په پښتو ژبه کې کوم مهم کتاب، ښه سرود او ترانه تولید شي داسې چې د نړۍ په لرو بر کې د خلکو په زړونو منګول ولګوي پښتو ژبه به لا ډیره ژوندۍ شي.

که دا چاره ونشي ژبه د یوې وچې اره شوې ونې غوندې ویرانه، خشنه او بې ګټې کیږي. هغه مرغان چې یو وخت یې په دې ونه کې ځالې جوړولې، نورو ونو ته کوچیږي، او په دې لار چې کوم مسافر راتله تر څو ددې ونې سیورې ته دمه وکړي او میوه یې وخوري، هغه کومه بله خوا درومي او د نورو ونو لاندې سیورې لټوي.

د پښتو ژبې د ودې لپاره باید هڅه وکړو. د یو ولسواکه حکومت جوړول چې د ټولو خلکو حقوق او آزادیانې پکې خوندي وي پښتو ژبې ته تر ټولو ښه خدمت دی. له استبداد سره مبارزه عین د ژبې خدمت دی. له بل لوري د هغې ډلې ملاتړ چې ښونځې بندوي، رسنۍ سانسور کوي او کتابونه منع کوي له خپلې ژبې سره جفا ده.